مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

مصطفی پسرلی

۲۰۲۱/۱۲/۲۶

# غزل

جوړه يي جفا نه کړه وفا، خو زه پرې نه پوهېدم
رنګه مي شوه د ژوند ښکلا، خو زه پرې نه پوهېدم

ما ته لالچ يي د جنت د حورو تل راکوو
ځواني مي کړه خپله تباه، خو زه پرې نه پوهېدم

چې دغه ګټه که تاوان وو، زه پرې پوه نشومه
خرڅ مي وطن کړو په هر چا، خو زه پرې نه پوهېدم

د غم لوی بار مي په سر پروت دی، پاڅېدی نه شمه
وخت ماته کړې راله ملا، خو زه پرې نه پوهېدم

وخت د پاڅون دی پسرليه يو ناره پکار ده
وخت يي راغلی دی ربښتيا، خو زه پرې نه پوهېدم

مصطفی پسرلی
24/Dec/2021



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ